مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

فدامحمد نومیر

۲۰۱۸/۱۲/۰۱

# د ښایست بلا

ما وې دا چي مي کابل او پغمان وران سو
د هرات وم ناخبر چي جوزجان وران سو

ښایسته کندهار شوبلو سپیره ډاګ کړ
شین زرغون اطلسي رنګه پروان وران سو

په اور و سوځیدغزنۍ د دښمنا نو
کور وکلی ، سیمه ، غر او میدان وران سو

لا له رنګ واخیست د وینو له باران څه
مخمل پوشه بلخ ، مزار شبرغان وران سو

د پیستي ځنګلونه وسوځل باروتو
غور، بادغیس او هم لوګر، تالقان وران سو

دنګه غاړه نښتر پریوتل پر مځکه
پکتیا ، هلمند ، زابل او روزګان وران سو

پیازي لعل او زمرد واړ خاکستر سوه
کاپیسا ، تخار ، کندز ، بدخشان وران سو

نارنج خوار او پژمرده شانته ښکاریږي
ننګرهار ، کنړ، لغمان ، نورستان وران سو

طاق د بست د اغیار توپ ټوټه ټوټه کړ
غور، مندیش ، زمیینداور، بامیان وران سو

د فراه ، نیمروز پوښتنه چا څه مکړه
جنګ ، جکړه کي پکتیکا او بغلان وران سو

کله کله ښایست ځان لره بلا سي
ښایسته ښکلي وطن د افغان وران سو

اکتوبر۔ ۱۱۔ ۱۹۹۷ متحده ایالات ، کلفورنیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ